پنځلس ورځنۍ

# زیری

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز
خپرنیز ارگان
د تاسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهار شنبه ۱ ۲ مه گڼه، درېیمه دوره، پرله پسې ۱۷۷ ۱۷۸ مه گڼه، ۱۳۹۲ لمریز کال، دوري (۲۸) مه، ۱۴۳۴ ق د جمادي الثاني (۶)، د۲۰۱۳ میلادي کال داپرېل (۱۷) مه نېټه



## د ناول پېژند

څېړندوی سیدنظیم سیدي

د ناول حقیقي معنا کیسه ده، دا چې څنگه کیسه؟ وروسته به پرې په تفصیل سره خبرې وشي؛ خو دم گړۍ همدومره پوهېدل په کار دي، چې ناول کیسه ده او کیسه ژوند دی؛ یعنې ژوند کیسه ده او کیسه ژوند دی، که څوک له ځان سره فکر وکړي، له کله نه چې انسان پیدا شوی له هماغې ورځې سره سمې کیسې او ستونزې پیدا شوې، کله کله دغه کیسې دومره خوږې شوې، چې انسان یې پر اورېدلو په جامو کې نه دی ځای شوی او کله ناکله دومره ترخې او بدرنگې شوې، چې په اورېدلو یې د انسانیت په نامه شرمېدلی؛ خو سره له دې بیا هم ژوند _ ژوند دی او څو چې انسان ژوندی وي دا سړې او تودې به گالي او زغمې به یې.

په هر حال کله چې سړی د کیسې تاریخ ته ځیر شي؛ نو داسې خبرې اوري، چې کیسه تر انسانانو مخکې هم موجوده وه او دلیل یې دا دی، چې پر همدې ځمکه تر انسانانو پخوا پیریانو واکمني کوله او یوه دوره ژوند هغوی هم په کې کړی دی، دا چې حقیقت به څه وي والله اعلم.

د دې لپاره، چې له خپلې موضوع څخه لرې نه شو رابه شو ناول ته او د نړۍ د بېلابېلو لیکوالو او پوهانو تعریفونه به د ناول په اړه راواخلو او د پیدابښت او پایښت په اړه به یې په خپل ځای کې پرې خبرې وکړو:

په دې کې شک نشته، چې د ادب د هر ژانر او صنف په اړه د نړۍ پوهانو بېلابېل نظرونه ورکړي دي او لامل یې دادی، چې ادب یو خلاق او نازک فن دی هر څوک ورته د خپل لید له زاویې گوري او پرې بحث کوي همدا لامل دی، چې د پېژندنې په اړه یې هېڅکله سره یوه خوله شوي نه دي؛ ځکه لکه څنگه چې انسانان مختلفې څېرې او عادتونه لري دغه شان هر څوک ځانته تعریفونه او لید لوري هم لري، چې ردول یې د تأمل وړ خبره ده.

تر کومه ځایه، چې ماته لږ و ډېره معلومه ده ناول ایټالوي کلمه ده، چې په لغت کې نوي، تازه، په زړه پورې، عجیبه، ښایسته او ښکلي شي ته وایي او په ادبي اصطلاح کې بیا هغه کیسه ده، چې سر او کار یې له ژوند سره وي، البته که د انسان ژوند وي او یا غیر انسان؛ خو کار یې له ژوند سره دی، کېدای شي ځینې مهال له انسان پرته پر نورو مخلوقاتو هم وغږېږي، چې ښه بېلگه یې سوداگر او طوطي، د نظر دیو کیسه، کلیله او دمنه او یو شمېر نورې فولکلوري کیسې دي؛ خو ځینې پوهان بیا په دې اند دي، چې سرو کار یې یوازې له انساني ژوند سره دی، نه له نورو شیانو سره؛ ځکه انسان چې هر ډول پنځونه یا تخلیق کوي یوازې او یوازې یې د بشر د خیر او ښېگڼې لپاره کوي او له نورو مخلوقاتو سره یې کار نه شته؛ خو یو شمېر پوهان بیا په دې گروهه دي، چې انسان ته اشرف المخلوقات ځکه وایي، چې د ټول بشریت لپاره کار وکړي که هغه انسان وي او یا نور مخلوقات؛ خو چې د انسان ورته وسه رسي؛ نو په کار ده، چې ورته کار وکړي، په هر حال دا موضوع به پر خپل ځای پرېږدو او خپلې موضوع ته به راشو.

د ناول په اړه به د نړۍ د څو بېلابېلو لیکوالو پېژندونو ته لږ تم شو:

((ناول د داستان پرمخ تللی شکل دی، چې له لنډې کیسې اوږد او له رومان نه کوچنی وي. یا ناول هغه کیسه ده، چې اډانه یې د انسان پر ژوند باندې خبرې کوي[2])).

ښاغلی سیدمحی الدین هاشمي ناول بیا داسې راپېژني: ((ناول د ایټالوي ژبې له ناوله Novella څخه جوړه کلمه ده، چې لومړی انگریزي ژبې او ادب او بیا له هغې څخه اردو او بیا پښتو ژبې او ادب ته راغلې ده.

لغوي معنا یې فرهنگونو، نوې، عجیبه او تازه څیز ښودلې ده[3])).

ښاغلی فوسټر وایي: ((په کومه نثري کیسه کې، چې الفاظ له پنځوس زرو نه کم وي؛ نو هغه به ناول نه وي)) دا خبره سمه نه ده؛ بلکې سمه یې دا ده: ((ناول یوه داسې نثري کیسه ده، چې د ژوندیو مسألو ترجماني په فني پیرایه کې وکړي او د کردار، سپنس، نظریه حیات، پلاټ، ماحول و غیره فني توکي په کې په خپل ځای توازن سره راشي او ورسره د لیکونکي د نقطه نظر وضاحت هم تر ډېره حده په داسې شکل وشي، چې د هغه پیغام واضح شي[4])).

# د بابرزي پر شعري ټولګو يو څو خبرې

څېړنوال نورالله ولسپال

د بابرزي د شعرونو درې مجموعې، چې يوه يې د «رنجو غرونه» دويمه يې د «خيمې سيوري ته» او دريمه يې، چې د نګريزو پاڼه نومېږي او په دې مجموعه کې د سندرغاړو سره مرکې او د هغوی د خوښې شعرونه کښل شوي دي د مضمون او محتوا له مخې ډېر په زړه پوې او د ولس او خکو له غوښتنو سره سم د هغوی د هيلو او ارمانونو ځواب ورکونکې دي.

ځکه چې ښاغلی شفيع الله خان بابرزی زموږ د وياړلي او پر تمين هېواد يو داسې وتلی او منلی شاعر دی، چې په ښار، کليو او بانډو کې به داسې څوک پيدا نه شي، چې دا وياړلی شاعر ونه پېژني او د ده له شعرونو سره اشنا نه وي ځکه! د بابرزي هر شعر چې زموږ د هنرمندانو او سندروغاړو په خواږه اواز کې خپور شوی او زمزمه شوی د دې هېواد په هر ګوټ کې د ولس غوږونو ته رسېدلی دی، د ده شعر روان، سليس د هر چا د ذوق سره برابر او ټول خلک وربانديې ښه پوهېږي، ځکه همدا بابرزی په ولس کې لوی شوی او همغلته يې خاپوړې کړي دي او د ولس په ژبه يې خواږه شعرونه ليکلي او په خپلو شعرونو کې يې د ټولو ولسونو د دردونو د درملنه کړې ده.

پاتې دريم مخ...

# په لنډيو کې رانغښتي مفاهيم

نعيمه غني

لنډۍ د پښتو ادبياتو يوه ساده او په زړه پورې برخه ده چې هر پښتون او پښتنې د خپل زړه حال په کې له کوم قيد او شرط پرته بيان کړی دی او د خپل هر ډول خيال هنداره يې بللې ده. ان تر دې چې د دوديزو روا او ناروا رواجونو، اندونو، خيالاتو او تصوراتو بيان يې د رانغښتو مفاهيمو په ډول د لنډيو په مرسته کړی او دا يې اړينه نه ده ګڼلې چې دا مفاهيم دې تفسير کړي. ښايي چې د لنډيو ويونکي به په دې اند وو چې دا د هغوی د زړه خبره ده چې شاوخوا خلک يې درک کولای شي او نور يې په اورېدلو اړ نه دي مګر دا چې د هغوی د زړه خبره به د ډېرو نورو د زړونو په خبره بدله شي او کلونه وروسته دې هغه لنډۍ د نورو له خوا وويل شي يا دا چې هغه انګېرنې او کړنې چې دوی دومره ټينګ باور پرې لري، هغه دې يو وخت خلک ونه پېژني او هغه دې ورته په يو پيچلي مفهوم بدل شي. ممکن دوی ته به معلومه نه وه خو اوس مهال که يو څوک د پښتني ټولنې پوره مطالعه ونه لري او دوی له دودونو، شګونونو، کړنو، انګېرنو او باورونو سره په بشپړه توګه پېژندګلوي ونه لري نو د ځينو ساده لنډيو تعبير به ورته يوه پيچلې معما شي.

دلته يې څو نمونې رااخلو:

۱ - په سر مې سور سالو سوری شو
د مسافر لالي په سر دې خير وينه

په پښتنو کې د ښځې ټيکری د هغې له خاوند سره تشبيه کېږي او ټيکري ته له يو لباس نه په پورته سترګه کتل کېږي نو ځکه خو کله چې يوې واده شوې ښځې ته د هغې د خاوند د اوږد عمر دعا کوي نو ورته وايي: «سر توره مه شې»او يا: «خدای دې له سر تورې ورځې وساته» دا لنډۍ همدې تشبيه ته اشاره کوي. د لنډۍ ويونکي ته دا ښه نه برېښي چې ټيکری يې څيرې شي. په اصل کې ويلای شو چې دا اصطلاح چې ويل کېږي: «ښځه چې بې خاونده شي نو سر توره کتهوه شي» په يوه انګېرنه به بدله شوې وي او د خلکو له خوا به منل شوې وي.

۲ - په سرنۍ تبه مړ مه شې
خلک به وايي چې ليلا ده بد شاګومه (شګونه) که څه هم نېک شګون او بد شګون په ډېرو خلکو کې شته خو په هره ژبه او ولس کې هغه توکي او پېښې چې نېک او بد شګون لري سره توپير لري. په پښتنو کې ناوې هم د نورو نېک شګونونو او بد شګونونو په کتار کې راځي او هغې ته په داسې سترګه کتل کېږي چې ګواکې هغه به يا نېک قدمه (نېک شګونه) يا بد قدمه (بد شګونه) وي او د هغې راتلل به يې خاوند او د هغه کورنۍ ته نېکمرغي يا بد مرغي له ځانه سره راوړي. دا خبره د ناوې لپاره ډېره ګرانه پرېوځي ځکه که خدای مه کړه د هغې د خاوند په کور کې د هغې تر واده وروسته کومه بده پېښه رامنځته شي نو د ژوند تر پايه به د خلکو له دې پيغور سره چې هغه بد شګونه يا بد قدمه ده، مخامخ وي. پورتنۍ لنډۍ په همدې اندېښنه کې د کومې نوې ناوې له خوا ويل شوې ده.

۳ - لاس دې تر زنه لاندې مه ږده
ستا به عادت وي ما به ورک کړې له وطنه

او يا هم چې وروور لري بې وروره مه شې بې وروره خوېندې لاس تر زنې ناستې دينه لاس تر زنې کېناستل هم يو له هغو اصطلاحاتو څخه ده چې په پښتو کې د بې کسۍ او نااميدۍ لپاره کارول کېږي. يعنې که څوک لاس تر زنې لاندې کېني نو دا به په دې معنا وي چې هغه له ژونده نا اميده دی او نور د ژوند له نا خوالو او ستونزو سره د مقابلې وس نه لري. نه پوهېږم چې دا خبره به په اصطلاح «کتابي وي که پيتاوي» خو په خلکو کې مروجه ده چې وايي:

«کله چې شيطان له الهي دربار نه ورټل شو نو د ډېرې نا اميدۍ له وجې لاس تر زنې کېناست»

په پورتنيو لنډيو کې هم لاس تر زنې کېناستلو ته د نا اميدۍ تشبيه تکرار شوې.

پاتې دريم مخ...

# په ټکلونو کې د ناموس کلمې ارزښت (۱)

څېړنپوه مير احمد ګوربز

د ناموس کلمه پراخ مفهوم لري لومړی به د ناموس کلمې پر لغوي اړخ يو څه رڼا واچوم.

پښتو قاموس (ناموس) عربې کلمه بولي او د هغې معنا عزت، ابرو او عفت کاروي. (۲۵، ۹۱۶)

ظفراللغات: ناموس د عزت، ابرو، ننګ، غيرت، ناموس ګټل غيرت ګټل په مفهوم او معنا کارولې ده. (۲۶، ۹۳۲).

فرهنګ فارسي د ناموس کلمه داسې ضبط کړې ده:

ناموس: عادت، شريعت، احکام الهي: ميپنداريد که آمدم تا ناموس و توريست باطل کنم، نيامدم که منسوخ کنم. مکر حيله تذوير. (که ميداند که مشتی خاک محبوس چی درد دارد از نيرنګ و ناموس و يا سالوس: (ای شيخ: تاکی از اين نفاق و ناموس)) سياست، تدبير، بې ناموس، بانګ، آوازه، غوغا، اشتهار، ميت، باقي بقول شاعر طوس است در جهان – ناموس شير مردی کاوس و تهمتن.

((سليمان ساوجی))

عجب، کبر، خود پسندي:

((ګويد خاقانيان اين همه ناموس چيست

نه هر که دوبيت ګفت لقب زخاقان برد

ابرو، عزت، احترام، ((سلطان ګفت... حرمت حرم بداشتيد و ناموس سلطنت نګذاشتيد، جنګ، حرب (ناموسګاه) عفت، عصمت، پاکدامني.)) و عرض و ناموس تو بسلامت بماند.))

((۱۱ر۶۴۲ ر۶۴۳)).

همدارنګه دا کلمه د وطن ناموس د قام ناموس د ښځې ناموس لپاره زياته کارول کيږي، مګر پښتانه، د ناموس کلمه مخصوصاً پر ښځه اطلاقوي.

پښتانه په ناموس دارۍ کې د متقابل احترام طرفدار دي يعنې که څوک د بل ناموس ونه ساتلی شي خپل ناموس هم نه شي ساتلي.

حميد بابا د ناموس په باب وايي:

چې د بل ننګ و ناموس ساتلی نه شي
وبه نه ساتي څوک خپل ننګ و ناموس

پاتې دريم مخ...

# د لوی او بخښونکي خدای (ج) په نامه

## سر لیکنه

### څه ډول اېډېټ

يو شمېر څېړونکي وايي، چې ډېر ځله پوهنيز – څېړنيز اثار اېډېټ ته دومره اړتيا نه لري؛ خو په داسې حال کې، چې دا خبره اپوته ده، په ځانګړي توګه په افغانستان کې، ځکه زموږ په هېواد کې تر نورو عادي اثارو او مقالو پوهنيز څيړنيز اثار ډېرې سمونې او اېډېټ ته اړتيا لري، آن دغه پوهنيز اثار که داکاډمۍ يا پوهنتون هم وي بويه په تخصصي توګه اېډېټ شي او تر نورو اثارو زياته ځېرنه ورته وشي؛ ځکه د داسې اثارو علمي پانګه درنه او مينه وال يې زيات وي او ډېرځله د کاڼي کرښې بلل کېږي.

موږ پورته هم په دې خبرو وغږېدو، چې د تخصصي موادو د اېډېټرعلمي کچه بويه د ليکوال له کچې سره سمه او يا تر هغه اوچته وي؛ ځکه د پوهنيزو اثارو اېډېټ دورځپاڼې يا عادي سياسي ليکنو په څېر نه دی؛ بلکې خورا پراخه اوسپله او بسنده پوهه غواړي. که چېرې زموږ پوهنيز و څېړنيز اثر ژباړه وي، اېډېټر ته بويه، چې په لومړي پړاو کې اصطلاحات او د دواړو متونو ژبې سره پرتله کړي او په دې ځان پوه کړي، چې ايا ژباړل شوې ژبې ته د راژباړل شوې ژبې ترکيبونه او اصطلاحات لکه څنګه، چې بايد وي هماغسې دي او که نه؟

ښايي په دې پړاو کې د اېډېټر کار يو څه ستونزمن وي او د معادلو اصطلاحاتو موندنه يې تر يو ځايه ستړی کړي؛ خو ګټه يې دا ده، چې اثر به له پرديتوبه وژغوري او د خپلې ژبې لوستونکو ته به يې د هغوی په خوښه او د هغوی په ژبه چمتو کړی وي.

بل ډول پوهنيز و څېړنيز اثر د تاليف په بڼه دی، چې لږه برخه يې د څېړونکي شننه او ډېره برخه يې د پرديو له اثارو څخه را اخيستنه او که ساده يې ووايم اقتباس دی. په دې برخه کې که د اېډېټر د پوهې کچه پراخه او تر بهرنيو کتابونو پورې رسېدلې وي سم له واره يې معلومولای شي، چې د ده تر لاس لاندې اثر کې د کومو ژبو له اثارو څخه ګټنه او اقتباس شوی دی، په دې صورت کې د ده کار نور هم پسې اسانېږي او په دې پوهېږي، چې را اخيستنه يې د څوم لاس را اخيستنه ده.

کومې خبرې چې پورته يادې شوې دا ټولې په «څه ډول اېډېټ» کې راځي؛ خو "د اثر ډول" او "اثر څه ډول منځپانګه لري" موادو په اېډېټ کې لاندې خبرې اړينې دي:

- د مطالبو تلخيص، تقليل – کره او نږه - او يا هم حذفول.

# پښتو غزل د دوه زره لسم کال په تناظر کې

طائر ځلاند

يوويشتمې پېړۍ په لومړي قدم کې له ځانه سره ډېرداسې ناورينونه راوړل چې تر دوه زره لسم پورې هغه پرهرونه چې له امله يې سينې ځريکې ځريکې وې ټکور نه شول او نن هم د درېيمې نړۍ وګړي يې له امله ځورېږي.

تاسې به وايې چې عنوان د غزل په اړه دی او خبرې دې ديوويشتمې پېړۍ منظرنامه ده، هو همداسې ده خو که موږ خپل شعر تجزيه کړو او د انتقاد په تله يې وتلو نو دا به ضروري وي، چې موږ د هغې دور په حال باندې وغږېږو په کوم کې چې تخليق کونکی تخليق کوي.

ديو مغربي ليکوال په ليک کې مې لوستي ول چې، کله په يو قام بحراني حالات راشي نو د هغوی (ارټ) ادب وده کوي، موږ چې خپل ادبي تاريخ ته ګورو نو زموږ غوره ادب او په ځانګړې توګه شعر رښتيا هم په همداسې بحراني حالاتو کې وده کړې ده اوس چې بيا يوځل په پښتنو بحراني حالات راغلي دي نو زموږ زلمو شاعرانو دخپل مسوليت اداکولو هڅې هم ګرندۍ کړي دي او دشعر له لارې د ولسي شعور په بېدارۍ کې خپله ونډه اخيستې ده.

ګلاب ګلاب لېمې رانه په سرو وينو کې وړې
ميرات شي، ځوانيمرګ شي، مړ شې، جنګه ځوانيمرګه
(شررساپی)

شرنګولې په کوڅو کې د دې ښار دي زولنې ما
د پرهر له شوره کړي، د فکرونو ترانې ما
(جلال امرخيل)

چې د پېغلو د پېکي سېوري پرې قات شول
نور دکلي له چينو نه مروريم
(سعيد زابلی)

بيا دې په غاړه د بلا مرګونو پړه واخيسته
شاباس، په خپله بربادۍ کې دې حصه واخيسته
(مجيد قرار)

پريو بدن دی، که د هر غړي دی
نو له هغې نه هم زړه توري شول، په دې دورو کې يې په ژبه او فکر بندېز لږېدلی و يوازې هغه څه ويل کېدلی شول چې بادار غوښتل، خو په دې شپو ورځو کې هم شاعرانو له خپلو هنرونو نه کار واخيسته

د زلميو شاعرانو شعر په دې ښه شو چې هنري بڼه يې خپله کړله هغه څه چې دوی يې په اړه اظهار نه شو کولی نو په هنري يې انداز د شعر په جامه کې خلکو ته وړاندې کړ چې په غېر مستيقمه توګه يې خپله وجيبه او فريضه ترسره کړه، که څه هم اوس د اظهار لپاره لارې چارې شته دی خو اوس ستونزه داده چې يو لورې ته پړانګ دی او بل لورې ته ډانګ.

دغې غير يقيني صورت حال هم د نن دور شاعر په ذهني توګه اغېزمن کړی دی، د دوه زده لسم کال شاعر په دې هڅه کې دی چې دخپل قام په راويښولو کې څه ډول رغنده رول ولوبوي، لکه څنګه چې پورته راوړل شوو شعرونو نه څرګندېږي، د نن دور شاعر له هرڅه دمخه غواړي چې قامي شعور په خلکو کې وروزي؛ نو ځکه موږ داويلی شو چې له ډېرې دمې وروسته يوځل بيا د نن دور په غزل کې د قام پالنې جذبه را پيدا شوې ده، د نن دور شاعر غواړي چې د دې ټولو ستونزو او مشکلاتو په موجوديت کې بيا هم خپل قام يو بل ته رانږدې کړي زما په خيال په اوسنيو شرايطو کې دا يو غټ مسوليت دی چې زموږ زلمي شاعران يې د ترسره کولو هڅه کوي:

چې دا ستا د تصور سيوری پرې راغی
خپل تصوير په ائينه کې رانه ورک شو
عبدالرحمان عضري

له مينې به دې څنګه په ژوندوني اخلم لاس
وطنه! ستا بچی يمه پېغور راته ګوري
بارکوال مياخيل

پر ته هيڅ کله هم شاعر دخپل وخت انځورګري او نماينده ګي په بشپړه او مناسبه معنا نه شي کولی.

زه چې کله هم دځوانو شاعرانو شعرونه لولم نو زياتره وخت په کې له نويو ژبني جوړښتونو سره مخ کېږم، الوتکې، د زړه بم، د نظر زلزله، ځانمرګی، جاسوس، بريد، ټوپک، کابل او دې ته ورته ځينې نور هغه لفظونه دي چې د اوسنيو حالاتو انځورګري کوي.

کابله اوس دې هم په ځمکه باندې اور بلېږي
کابله بيا دې غېږه هاغسې واورينه نه شوه
بختيار ساحل

په کلي کې ټوپکي ګرځوو يو پښتانه
په کور کې تلاوت د جنګنامې کوو اوس هم
احسان الله درمل

د انسان جامه کې پټ يوو انسان نه يوو
ټوپک توري يادوو ماشوم وېده کړو
نورګل شفق

د دې شعرونو له راوړلو نه زما موخه يوازې دومره وه چې زه اشاره وکړم دې خبرې ته چې د دوه زره لسم کال د غزل شعر حقيقي ژوند ته نزدې شوی، غواړي په هغه حقيقتونو له خلکو سره وغږېږي چې دی ورسره شپه او ورځ مخ دی، د کوم څه يادونه چې د ولس په ژبه وي نو شاعر هم په لاشعوري توګه يې تر اغېزې لاندې راځي، ځکه چې دا هم د همدې ټولنې وګړی دی، د همدې ټولنې سره نسلي او لساني اړيکې لري او دا چې د دوه زره لسم کال شاعر له تنکی دی او د ژبني نظام په جوړونې کې لا په خا پوړو دی نو ښکاره خبره ده چې يو شمېر توري او ترکيبونه به د اوريدونکي او لوستونکي په غوږونو درانه لږي او دا امکان هم

✍ ځای پر ځای کول.
✍ سپړنه، بدلون، سمونه او جوړونه.
✍ زیاتوالی.
✍ بیاکتنه او سمونه.
✍ د اسلوبو ترتیب او منظمول.

پر پورته مواردو سربېره په اېډېټ کې د حذف یا ځینو برخو لرې کول هم اړین دي، چې په وسیله یې متن د روانوالي او ساده والي خوا ته ځي، ځکه موږ وینو په ځینو مواردو کې یوه خبره په څو ډوله الفاظو کې بیان شوې وي؛ خو منځپانګه او جاج یې یو وي؛ ځکه د حذف خبره هم په اېډېټ کې اړینه ده. البته یو شمېر څېړونکي په دې اند دي، چې هره هغه بېلګه - بې ځایه خبره، د لیکوال د نظریو تکرار، بې ځایه حاشیه روي، نا اړینې خبرې، مبتذل مطالب، بې ځایه درناوی او ترټنه، داسې خبرې، چې په هغه کې د لیکوال نظر نه څرګندېږي او کومه ځانګړې معنا هم ونه ښندي، د داسې لاسوندونو او لاملونو په ګوته کول، چې له اره اساس او بنسټ نه لري او یا هم له داسې اخځلیکونو څخه کتنه کول، چې څېړنیز او پوهنیز ارزښت نه لري او یا هم کره او نږه نه وي - راوړل کېدلای شي د حذف تر شپول لاندې راشي او لرې شي، په دې کار سره نه یوازې د متن په ساده والي کې مرسته شوې، بلکې د لوستونکي د وخت له ضایع کېدلو او زړه توري څخه یې هم مخه نیول شوې ده.

دغه راز د متن نږه کول او کره کول هم هغه مهال کېږي یا هغه مهال یو متن کره او نږه کېږي، چې نقل قولونه، شواهد او ویناوې له حده زیاتې اوږدې او بې مسوولیته شي، په دې معنا ډېر ځله موږ یو متن انتقالوو یا ترې اقتباس کوو؛ خو هڅه نه کوو، چې د اقتباس په ټولو شرایطو یې ځان پوه کړو؛ بس خوشحاله یو، چې خبره مو کره کړې او په کنډه برابره ده، په داسې حال کې، چې په نامستقیم ډول مو له څېړنې سره خیانت کړی دی.

په اېډېټ کې چې کله له پورته پړاوونو څخه واوړو نو د بل پړاوو وار را رسېږي، چې هغه ته ځای پر ځای کول او که ساده یې ووایم ډلبندي وایي، په دې معنا څېړنیزه مقاله یا رساله له خبري یا ژورنالیستي مقالې سره خورا ګورټ توپیر لري، ښایي ژورنالیستي مقاله داسې پیل او پر مخ بوځو، چې موخه مو یوازې او یوازې د خپلې خبرې بیانول وي؛ خو په څېړنیزه مقاله کې بیا پر دې خبرو سربېره د څېړنیز ار په پام کې نیول هم دي. یعنې لومړی بویه د موضوع میتود مشخص شي بیا یې پوښتنه و پوښتل شي، ورپسې د موضوع شالید او په هغه پسې د موضوع آره منځپانګه او څېړنیزه چاره او بالاخره پایله یا نتیجه ګیري، وړاندیزونه او اخځلیکونه بیان شي؛ خو له پوهنیزو او څېړنیز مقالو پرته نورې مقالې بیا دا ځانګړنې نه لري. البته دا حکم قطعي نه دي، که هره مقاله دا پړاوونه ولري نو له نعمت څخه نعمت الله جوړېږي؛ خو که ویې نه لري ډېر باک ځکه نه کوي، چې په افغانستان کې همداسې کړندود دود دی.

ځینې څېړنیزې مقالې پر پورته ترتیب سربېره د لمنلیکونو، حواشیو، تعلیقاتو او تدوین ربړې هم لري، چې د اېډېټر بله پازه پر دې کارونو پوهېدل او په سمه توګه ترسره کول؛ یعنې سمون هم دی؛ ځکه یوازې زیاتول او کمول هر څوک کولای شي؛ خو په ځانګوالیزه توګه سمون او رغښت یې خورا بسنده وړتیا غواړي.

**اداره**

که د زابل، که د خیبر درد دی
(حکمت سروش)

که لر غور ځیږي که بر غور ځیږي
بم مو د زړونو په سر غور ځیږي
(نصرت الهام)

پاس مو پر اسمان د جنګ چورلکې ګرځېدلې
کلي کې خوره وه د مرګ وېره برایي شپه
(روما محمدي)

خپلې خولې مې د تنهاکو پښو دوا نه شولې
ژوند تېرول راته د نوي دور ایجاد ګرانوي
(بختیار ځدران)

نه دې آمري نه دې ته مرې خپر مو غواړم
غم په خدای د دواړو لورو راسره دی
نور ګل شفق

چې ښکاریدلی په کې نه د چا ظاهر او باطن
کاش چې دا زړونه مو ډېرې وی هنداري نه وی
اتل افغان شینواری

نن مې په شعر کې د حالاتو تقاضې راوړي
نن چې د ګل او د سپوږمۍ خبره نه کومه
هجرت الله اختیار

دوه زره لسم کال د خپلې لنډې ماضي ټول کړاوونه په خپلې څولۍ کې له ځانه سره راوړي دي، د روانو حالاتو له امله د خپل راتلونکي په اړه هر دویم کس د شک دیو د خپلې سایې لاندې کړی دی چې د دوی راتلونکی به څه ډول وي، یوې لورې ته د دهشتګردۍ په نوم جنګ نړیوالو په غریزو سیمو کې د عامو خلکو پروړاندې له بې رحمۍ نه کار اخیستی دی نو بل لورې ته داوسني نظام په خلاف ولاړ خلک هم خپل ټول زور په درېیمې طبقې ازمایې، دا هغه حالات دي چې یقیناً زموږ د نن دور شاعرې په اړه اندېښمن دی.

پورته راوړل شوي شعرونه زما د دې خبرې پخلی کوي چې زموږ د نن دور زلمي شاعران له حالاتو نه بې خبره نه دي، په پښتني سیمه روانه لوبه کله هم د دې خلکو په ګټه نه ده او نه هم دوی په دې کې شریک دي بلکې له نورو خلکو له خوا پرې تپل شوې ده، زموږ هغه ولس چې د څو کلونو خپل منځي جګړو ځپلي و د طالب حکومت ته هرکلی وکړ، خو چې هغوی د تمدن ښېې وهل شروع کړې

څو به خپل وطن کې د پښتون په نوم زورېږمه؟
څو به په کابل کې په پښتو پوښتنه نه کوم؟
جلال امرخیل

داسې یو د خوف طوفان رالوتی په وطن کې
نه غواړي څوک دلته اوس له ډاره ژوندګي
انعام الله ګوهر

قلمونه په رښتیالیکلو ګونګ دي
ترجیحات نور دي د ښار داخبارونو
ګوهر وزیر

دلته دې خلکو نور څه زده
ماتول یې تش د زړه زده
رفیق مهران

په کلي کې ټوپکې ګرځوو یو پښتانه
په کور کې تلاوت د جنګنامې کوو اوس هم
احسان الله درمل

زه به دا په وینو سور تندی رب ته ښکاره کړمه
وګوره ویم ستا لار کې وم تللی بیرته راغلمه
سعدالله فطرت

په دې شعرونو کې به تاسې د خپل زلمو شاعرانو فکري بلوغت او د روانو حلاتو په اړه د هغوی نظر او د فکر لېد لوری کتلی وي خو که له دې خبرو راتېر شو او د غزل فني خوا ته ځیر شو نو لکه څنګه چې د نن دور زلمي غزلګو شاعرانو د خپل وخت انځورګري کړې ده او د خپل فکري بلوغت جواز یې وړاندې کړی نو که د نن دور د زلمو شاعرانو غزل ګورو نو په فني لحاظ یې هم د د نن دور نماینده ګرځولی دی زما په خیال لومړی د ثور انقلاب او ورپسې د دوه زرم کال نه راپه دېخوا پښتو غزل مسلسل له ژبني بدلونونو سره مخ شوی دی که یو لورې ته نوي ژبني جوړښتونه په کې ترسترګو کېږي نو بل لورې ته د شعر کلاسیکي ژبه یې نوې او تازه کړې هم ده.

که یو شاعر د خپل دور او د خپل وخت په حالاتو غږېږي او د شعر موضوع یې ګرځوي نو مهمه نکته دا ده چې باید ژبه یې هم د نن دور وي استعارې او تشبیهات یې هم باید د دې دور وي او علامتونه یې هم باید د ننني دور وي، که یو شاعر داسې نوښت وکړي نو هغه به موږ په هره معنا د خپل وخت نماینده شاعر ګڼلی شو. له دې نه شته چې لوستونکي یې د شعري لذت په مخکې خنډ وګڼي. خو ولې له دې حقیقته هم باید انکار ونه کړو چې همدا خاپوړې به سبا د دې وخت یوه نښه یې او لکه د شخصي یادښتونو په څیر به یې د شعري بهیر د تاریخ په کتابچه کې له ځانه سره ګرځوو.

زه دا هم نه وایم چې د دوه زره لسم کال دغه شاعرانه رجحان دې خپل اوج ته رسېدلی وي بلکې زه دا بهیر د غزل په مزاج کې یوه نوې کیفیاتي شېبه وینم او دا خبره د خپل شاعر په کیفیت پورې تړم چې تر کومه حده هغه د دې کیفیت او مزاج سره مل پاتې کېږي ما پورته چې کوم شعرونه راوړل زیاتره هغه ډول شعرونه وو چې د جنګ، ناامنۍ، وېرې، شک، ناورینونو او بې وسۍ تصویرونو په کې خپل ځان ښکاره کاوه دوه زره لسم کال داسې شاعران هم لري چې هغوی اوس هم په دې لوګي لوګي ماحول کې د رومان سندرې وایي. سره له دې چې په تلویزونونو او راډیو ګانو کې همیشه د چاودنو او بمباریو، د مرګونو او زنځیرونو خبرونه اوري خو د خپل ځوان او سرشاره تخیل پرمټ د بنګړو شرنګ یې غزل اوس هم لري، اوس هم د خپل لاشعور په ورکو جزیرو کې د کلي په خوا کې د زوړ چینار د ګودر د رنګین مازیګر ننداره کوي.

جلان، جاوید اوربل، بختیار ساحل، مصطفی باور، نادردانش، شېرمحمد حیدر، سردارولي څرک او داسې څو نور نومونه هغه زلمي شاعران دي چې په شاعرۍ کې یې خپل کلاسیکي روایت ژوندی ساتلی دی، که د دارو رسن خبرې کوي نو د زلفو په ټالونو هم زانګي، د دوی په شعرونو کې د انساني نفسیاتو راټه انځورونه ترسترګو کېږي د دوی شاعري که څه هم په لاشعوري توګه د خپل وخت د حالاتو ترجماني کوي خو په شعوري توګه دوی په هغه فطري او طبعي غوښتنه کې اوس هم راګیر دي چې لکه د اوبو او ډوډۍ ورته انسان اړتیا لري، چې دا ټول د دې خبرې ګواهي ورکوي چې د دوه زره لسم کال غزل دیکسانیت له دایرو نه د وتلو په هڅه کې هم دی.

# په لنډیو کې رانغښتې...

۴ - کـه مـې پښـتو تـر سـره نـه کـړه بیـا بـه لـونګۍ تـر سـره څنګـه تاوومـه همدا راز:

پټکـی دې پـاس پـه وروځـو کېږده وطـن پـردی دی چـې ډاډه درپسـې ځمـه که د دې لنډیو پس منظر ته ځیر شو نو راته څرګنده به شي چې لونګۍ او پټکی په پښتنو کې د یو نارینه د غرور او غیرت څرګندویي کوي او هغه یې په ساتلو مکلف دی. په دویمه لنډۍ کې داسې ښودل کېږي چې یوه پښتنه ښځه د یوه پښتانه نارینه په غرور ډاډمنه ده او د هغه تر څنګ ځان خوندي احساسوي ځکه په هره ټولنه کې نارینه وګړي د ټولنې د ټولو او په تېره بیا د ښځینه وګړو د ساتنې مسوولیت لري.

۵ - پـه مـازدیګر دې کـډې بـار کـړې پـه مـازدیګر د ګنهکـارو کـډې ځینـه د یو کار شروع له مازدیګر څخه د پښتنو تر منځ مروجه نه ده، ښایي دا ځکه چې مازدیګر لنډ وي او هغه کار چه په دغه مهال شروع شي هغه به بې برکته وي. خو د دې لنډۍ په اړه باید ووایم چې کله به په پخوانیو حکومتونو کې کوم چا څه ګناه کړې وه نو د چارواکو یا قومي مشرانو له خوا په زور او جبر کډه کولو ته اړ ایستل کېده. یعنې تبعید به شو نو د وخت په نه پام کې نیولو سره به یې هغه ته د هغې ورځې تر پایه د کډې کولو امر وکړ. دغه کس به په مازدیګر کې هم کډه کوله چې دا لنډۍ هم په قوي ګومان همداسې یو کس ته خطاب کوي او هغه ته وایي چه ته خو په کومه ګناه نه یې تورن چې په مازدیګر کې کډه کوې. ښایي دا به کوم مین ته کنایه وي چې هغه ته د مینې سزا ورکول کېږي او د یوه ګنهکار په څېر چلند

سترګه نه کتل کېدل که څه هم اوسني خلک دې کار ته د پوهاوي د یوې ښې او تقریباً ضروري وسیلې په سترګه ګوري؛ خو هغه وخت به که کومې ښځې په لاسونو خبرې کولې؛ نو خلکو به هغې ته د بې پروا ښځې نوم ورکاوه او ویل به یې چې دغه ښځه ډېره بې باکه ده او د نارینو غوندې خوی لري. اوس هم دې کار ته د کلیو خلک په ډېره ښه سترګه نه ګوري. د کلیو نجونې او ښځې په ورو ورو او کراره غږېدا له ډېرې تېزې غږېدا نه ښه ګڼي او د غږېدلو په وخت کې لاس خوځول هم ښه نه ګڼي او نه هم د مخاطب په لور ګوري؛ بلکې سترګې مځکې ته نیسي. په هر حال دا لنډۍ د د همدې دود لپاره ویل شوې ده او دویمه مسره یې دا بیانوي چې دا مېرمن (لیلا) دا اراده نه لري چې په لاسونو باندې وغږېږي؛ بلکې دا کار د دې لپاره کوي چې ماته خپل په لستوڼي ټومبلې ګل مېخۍ رابښکاره کړي (ګل مېخۍ د ګاڼو له ډلې نه داسې د سپینو زرو نه جوړ شوېو غمیو ته ورته مېخک دي چې درې، څلور کتاره څنګ په څنګ د ښځو له خوا په لستوڼیو ټمبل کېږي او ډېرې ښکلې ښکاري).

۸ - زمـا پـه بنـه سـلام وایـه کـه تـه شکنه یې زه مورچک (مرچ) درولوېدمه شـکنه (اشـکنه) یـا پیـاوه یـو ډول لـه هګیو، کچالو، شلغمو نه پخیدونکي خواړه دي چې په ډېرو سیمو کې رواج لری. پخوا به چې خلکو خواړه په ګرم مزاجه او سوړ مزاجه خوړو ویشل؛ نو اشکنه یې په ډېرو ګرمو خوړو کې راوستې وه؛ نو دا لنډۍ هم دا خبره کوي او یوه مېرمن خپله بن له شکنې سره سره ورته کوي؛ خو په مقابل کې یې خپل ځان له مرچ سره ورته بولي چې په مزاج کې ډېر زیات ګرم دی او هغې ته د خپل زور او اثر چې په مېړه او هغې به یې ولري، یادونه کوي.

پـه شـفاهي نکلونـو او کیسـو کـې ولولو:

په پښتنو کې دا خبره ډېره عامه ده چې ښځه او پټی (شخص او ځمکه) دواړه د ناموس حیثیت لري او په دې ارتباط یو مشهور متل لرو ((مال له سرنه قربان او سر له ناموس نه قربان)). که څوک په پښتنو کې د دغه منل شوي اصل مراعات ونه کړي هغه په پښتني ټولنه کې خپل ټول عزت او پت بېخي له لاسه ورکوي. دې روحیې د ادم خان او درخانۍ په نکلونو او همدارنګه په هغه ټولو شفاهي او لیکلي نکلونو کې چې د مختلفو اشخاصو له خوا ثبت شوي دي پوره خلا موندلې ده.

وایي چې د آدم خان پلار حسن خان او د درخـانۍ پـلار تـاوس خـان پـه کوچنیوالي کې ناسته سره کړې وه او درخانۍ یې د آدم خان په نامه کړې وه.

د صدر خان ختک د آدم او درخانۍ په کتـاب کـې روایـت داسـې دی چـې درخانۍ د پیاوي کوژده وه (۵،۲۸) او وروسته آدم خان پرې مین شو له زیاتو هلو ځلو نه وروسته د درخانۍ پر بیولو بریالی شو.

آدم خـان او پیـاوي دواړه د ځـانګړو سیمو خانان دي او هر یو ځان ته د خپلې سیمې خان وایي او یو له بل نه ځان ټیټ نه ګڼي او دواړه له یوې داسې پېښې سره مخامخ کېږي چې یوه لپاره هم د پښتنو په ټولنه کې داسې لاره او درک نشته چې له درخانۍ نه دې تېر شي. د دواړو عزت، پت، ننګ، مقام او خاني موقف هغه وخت ساتل کېږي چې درخانۍ د ځان ښځه کړي او یا پر هغې سر کښېږدي دلته درېیمه لار درک

# د کنایې اصلي...

اورنګ شاه یا اورنګزېب خپل پلار د دې لپاره بندي کړ چې پاچاهي ترې ونیسي، خپل وروریې د دې لپاره وواژه چې پاچاهي ځنې ونه نیسي نو دا له عدالت سره څه ارتباط نه لري. له بلې خوا اورنګزېب په زهد او تقوا باندې ډېر زیات تظاهر کاوه او اوس هم په نیمه وچه کې خصوصاً په پاکستان کې اورنګزېب ته په ډېره درنه سترګه کتل کېږي. علت یې همدغه په تقوا باندې د هغه تظاهر دی. نو دلته خوشحال بابا نه یوازې دا چې دا تاریخي پېښې رایادوي چې اورنګزېب خپل پلار بندي کړ او خپل وروریې وواژه بلکې په عین حال کې دې ته هم یو ډول طنزآمېزه اشاره کوي چې اورنګزېب په تقوا او په زهد باندې تظاهر کاوه کوي نو ځکه خو وایي: ((خپل پلار ترې په عدل، په فتوا وژني خپل ورور))

غضنفر: تاسو وویل چې کنایه له عادي ژبې د ولس له ژبې ادبیاتو ته راغلې ده. فرضاً یو کار پیلوو نو وایو چې ((بسم الله کړه)) دا هم کنایه ګڼل کېږي. د کار په پیلولو کې خو د عادت له مخې د خدای نوم اخیستل کېږي نو دا د کار د پیلولو یو لازم جز دی نو وایي کله چې لازم یاد کړئ او ملزوم ته اشاره وکړئ دا کنایه ده. په نورو غیر مستقیم ویناوو کې دغه شي ته کنایه وایي. ستاسې په نظر دغه لازم یادول او ملزوم ته اشاره کول د کنایې د تعریف اصلي جز دی؟

منلی: د کنایې تعریف همدغه دی نو فکر کوم چې په تعریف کې به یې ډېره خبره نه وي، خبره په دې کې ده چې لازم څه شی دی او ملزوم څه شی دی؟ په بسم الله کې خبره واضحه ده، لېکن په ځینو نورو ځایونو کې لکه د خوشحال بابا شعر چې مې یاد کړ، په هغه کې دغه لازم او ملزوم واضح نه دي چې کوم یې لازم دی او کوم یې ملزوم. نو فکر کوم

# د بابرزي پر شعري...

د بابرزي زیات شعرونه له موسیقۍ سره تړون لري او دغه تړون د ده د ښکلو شعرونو تاثیر او اغېز نور هم زیات کړی دی، هغه د ولسونو او پرګنو په منځ کې ډېر شهرت لري، ځکه بابرزی د خپل ولس او پرګنو په نبض ښه پوهېږي، د هغوی دردونه راسپړي او په ډېر صداقت او ایمانداري یې بې له ویرې او ډار بیانوي.

ځینې پوهان وایي ښه شعر هغه شعر دی، چې ډېر لوستونکي، ډېر اورېدونکي او مینه وال ولري نو په دې توګه ښاغلی بابرزی هغه شاعر دی، چې په لره او بره پښتونخوا کې ډېر زیات مینه وال او اورېدونکي لري، ځکه نوموړی په خپلو شعرونو کې کوښښ کوي، چې د خپل مظلوم او بیچاره ولس د ژوند پېښې د شعر په ژبه په ډاګه کړي.

بل ځای وایي: د هرې زمانې لیکوال او شاعر د خپل وخت د هغو ځلاندو مرغلرو مثال لري، چې هر چا ته له ورایه ځلېږي.

غواړم د ښاغلي بابرزي د شعرونو ځینې بېلګې چې د واقعیتونو څرګندونه په کې شوې ده تاسې ته ولیکم:

هر څه راشي دې وطن ته د غټانو جېب کې
ورک شي
د تمامې خاورې شته مې څو کسانو جېب کې
ورک شي
لکه سیند د هلمند درومي، د سیستان دښته
کې تم شي
د دنیا مرستې که راشي څو لېوانو کار پرې سم
شي

دا د لمر په شان ښکاره خبره ده، چې زموږ هېواد ته د تمامې دنیا داسې مرستې راغلې که سیلاب شوې وای ټولې ځمکې به یې خړوبې کړې وای خو د دې هېواد ماهرو غلو داسې

ورسره کېږي او بې وخته د وطن پرېښودو ته اړشوی.

۶ -اوربل په توره نه ورانېږي چې وخت یې راشي سلایي یې ورانوینه د دې لنډۍ تر شا د پښتنو یو دود پروت دی او هغه دا چې پخوا به پښتنو نجونو خپل ویښتان (چپه کاکل) جوړول او هېڅ کله به یې هغه په منځ نه پرانیستل او دا عیب ګڼل کېده چې یوه پېغله نجلۍ دې ویښتان په منځ پرانیزي. خو د واده نه یوه شپه مخکې به د کلي نجونې او ښځې راټولې شوې او د نجلۍ ورور یا بل نژدې نارینه به په یوه خاص دود سره په یو سلایي د هغې ویښتان پرانیستل او له هغې وروسته دې کولای شول چې خپل ویښتان هم چپه کاکل جوړ کړي او هم یې په منځ پرانیزي. البته واده شویو مېرمنو به بیا ډېر ځله چپه کاکل نه جوړاوه او دا کار یې د نجونو فیشن ګاڼه. اوس هم په ځینو لرې پرتو سیمو کې دا رواج څه ناڅه شته خو په پراخه توګه له منځه تللی. دا لنډۍ هغه دود ته په پام سره ویل شوې ده. دې او داسې نورو لنډیو ته په پام سره ویلای شو چې لنډۍ که له یوې خوا ډېرې ساده او عام فهمه شعري ټوټې دي له بله اړخه یې ډېر لرغوني مفاهیم په ځان کې رانغښتي دي چې پوره تفسیر او وضاحت ته اړتیا لري او د پښتنو د کلتور پېژندګلوي تر ډېره له همدې لنډیو نه کېدای شي. له دې ورهاخوا د تاریخ، دود او دستور، د هغه وخت خیال او فکر، سیاسي او ټولنیز شعور، دژوند د کچې او ټولنیزې ودې په اړه کره او دقیق اسناد په لنډیو کې موجود دي چې د حقایقو په معلوملو کې له موږ سره مرسته کولای شي خو په دې شرط چې په دقت سره مطالعه او تفسیر شي.

۷ - چې په لستوڼو کړي خبرې لیلا شوقي ده ګل مېخۍ راښکاروینه په دې لنډۍ کې په لاسونو غړېدا ته اشاره شوې ده. لومړی به دا خبره وکړم چې په پخوا زمانو کې د ښځو په لاسونو غړېدو ته په ښه

# په نکلونو کې د ناموس...

دا یوه اخلاقي کلیه ده چې په پښتنولۍ کې مراعات کېږي او بې ناموسه سړي ته پښتون نه ویل کېږي د پیرنګي پر کال چې ۲۶ زره پرنګیان غازیانو مړه کړل.

وزیر محمد اکبر خان خپل ناموس په شان د دوی ښځې وساتلې او بیرته یې وروړسولې د پښتنو غازیانو د دوی ډیر احترام کاوه.

یوه بله کیسه د شیرشاه سوري په باره کې ده، هندوستان د مشهور پښتون شیرشاه زوی یو وخت په نا پوهۍ کې د یوه هندو ښځې ته کتلي وو چې په یوه ځای کې لوڅه لمبېده، هندو پر عادل پادشاه عرض وکړ شیرشاه حکم وکړ چې د ده د زوی ماندینه دې همغسې لوڅه کړي چې هندو ورته همغه ډول وګوري.

د دربار سردارانو چې د پادشاه دا حکم واورید هغه عارض هندو یې په خورا ښه شان په پټه راضي کړ چې دی بیرته د شیرشاه په حضور کې خپل حق د شهزاده ماندینې ته وروبخښي نو هندو لاړ خپل حق یې د پادشاه په حضور کې وروباخښه. پادشاه ورته وویل ما خو په هغه ډول چې پر تا تیری شوی و ستا حق اخیست اوس چې ته یې په خپله رضا بخښې اختیار لرې هندو عارض یې ډیر ونازاوه او رخصت یې کړ، (۹۶، ۹۰، ۷) د ناموس د کلمې مفهوم په شفاهي نکلونو کې چې ډیرې لرغونې ریښې لري په برجسته توګه انعکاس موندلی دی او اوس به یې نه لري. د پښتنو په نرخونو کې د مرګ، ژوبلې او غلا لپاره د روغې جوړې لارې شته او امکان لري چې روغه سره وکړي خو د ناموس په مساله کې له پورته لارې نه پرته نورې ټولې لارې تړلې دي او همدا د ناموس (درخانۍ) کیسه ده چې د (آدم خان او درخانۍ) مشهور نکل یې ایجاد کړی دی.

د آدم خان او درخانۍ د سرنوشت په باب صدرخان خټک لیکي:

کله چې درخانۍ پیاوی ځانله واده کوي او آدم خان له دې کیسې نه خبرېږي د مینې او پښتونولۍ ژور احساسات پر ده دومره اغېز کوي چې آدم خان په لږه موده کې د دقیت ناروغۍ له امله مري او درخانۍ چې د آدم خان له مرګ نه خبرېږي هغه هم په همغه لحظه د ده پر مړ ستانه ساه ورکوي. (۲۸ر۱۶۲- ۱۵۴)

هغه نکلونه چې د آدم خان او درخانۍ په باب د پکتیا په مختلفو سیمو او قومونو کې او له مختلفو راویانو نه ثبت شوي دي او څو قلمي نسخې یې زما په مخکې پرتې دي زیات ښاخونه او وریانټونه لري د دې موضوع په ارتباط له مسایلو سره تماس نیسم.

یو ځای د درخانۍ په باب د ګوربزو په نکلونو کې وینو کله چې آدم خان او میروګی د شپې په تیاره کې د رخو د پیاوي سردار نه راولي. په لاره کې د ړانده ښاپیري د هوا نه سترګې په درخانۍ لګېږي زړه یې په خوږېږي د سترګو په رپ کې پر درخو جادو اچوي او له ځانه سره یې هوا ته پورته کوي خپل وطن ته یې وړي درخو هوښیاري کوي د هوا نه خپل پړونی راغورځوي او دا پړونی د ونې په ډېره جګه څوکه کې بندېږي د دې معنا داده چې زه پلانۍ [illegible] او یا

چې د کنایې په برخه کې زما په نظر څه چې وکړای شي په یو ډول خوشایند طرز یوه پېښه، یوه خبره، یو واقعیت اظهار کړي، دا به د کنایې ښه تعریف وي.

غضنفر: یو بل مثال: فرضاً بیا هم یو څوک کار پیلوي. وایي ((مټې یې ورته راونغښتې))، ((پلانې د سړک جوړولو ته مټې راونغښلې)) یعنې په حقیقت کې کار ته یې مټې راونغښلې. دا مټې رانغښتل د کار د پیلولو لپاره لازم شی دی، لازم ګڼل شوي دي. یا فرضاً په هغه عربي مثالونو کې چې د بیان په کتابونو کې یې ورکوي مثلاً وایي: ((د پلانې په کور کې ایرې ډېرې وي)) منظور یې دا وي چې دا سړی سخي دی ځکه چې په کوم کور کې چې ایرې ډېرې وي نو هلته اور ډېر بلېږي او په کوم کور کې چې اور ډېر بلېږي نو هلته دېګ ډېر پخېږي او چې دېګونه ډېر پخېږي معنا یې دا ده چې خواړه ډېر دي او مېلمانه ډېر دي. دا د لازم او ملزوم یو قسم رابطه شوه. نو په پخوانو کتابونو کې یا د بیان په دې اوسنو کتابونو کې دغه اړخ باندې دا د لازم او ملزوم پر اړخ باندې ډېر تاکید کېږي خو لکه څنګه چې تاسو وویل په ادبیاتو کې کله کله تعریض هم د کنایې برخه بلل کېږي. لکه د خوشحال بابا په دغه شعر کې چې د اورنګزیب پر خلاف یې تعریض کړی دی. نو د کنایې دغه ټول اړخونه راټولول او یو تعریف ځینې جوړول یو څه پېچلی کار نه دی؟

منلی: د تعریفونو مشکل همېشه همدغه دی چې تعریف هېڅکله جامع نه وي. کله چې موږ یو شی تعریفوو یو اړخ یې برجسته کوو. نو دا د تعریف ستونزه ده او د تعریفونو د جامع والي مانع هم همدغه شی دی خو بیا هم فکر کوم چې د کنایې لپاره به همدومره ویل کافي وي چې داسې یو ډول، یو طرز باندې خبرې کول چې هېڅ شی یې اصل مطلب نه افاده کوي، مګر ټول شی پوره مطلب افاده کوي. دغه د کنایې یو تعریف کېدلای شي.

ولوټلې، چې هېچا ته یې پته ونه لګېده.

بل ځای د شین اسمان لاندې لوګي تر عنوان لاندې شعر کې داسې وایي:

د دې شین اسمان نه لاندې
خدایه بیا ولې لوګی دی
سرې لمبې ترې پورته کېږي
د افغان بچو ښوونځی دی
د مکتب زنګ یې مړ شوی
په ګولو سوری سوری دی

په دې وطن باندې د هېچا زړه نه سوزېږي په اوسنیو وختونو کې هر څوک دا کوښښ کوي، چې خپل وطن کنډ کپر کړي او د هغه په خرابۍ او ویجاړتیا باندې خپل جیب ډک کړي په دې مظلوم ولس چې هر څه تېرېږي زما یې پرې څه:

په یوه بل شعر کې، چې عنوان یې دی شهرناپرسان داسې وایي:

شهر ناپرسان دی ازادي خودې ته نه وایي
هر څه چې کوې ته دیموکراسي خو دې ته نه وایي
دا دیموکراسي به زموږ پوزه خوله راماته که
خپله په ځان خاندو خپلواکي خو دې ته نه وایي

ښاغلی بابرزی د خپل ولس په نبض ډېر ښه پوهېږي د هغوی دردونه راسپړي په ډېر صداقت یې بې له وېرې بیانوي:

په پردو کډو خفه وم نن مې خپله کډه لاړه
د دې خوار وطن په غم کې زه هم ژاړم ته هم ژاړه
په ژوندون دې څه بې قدره له خپل کلي نه رخصت کړم
پس له مرګه زما مړی دې وطن ته مه راغواړه

ښاغلي بابرزي د قلم او کتاب یاري تر سرلیک لاندې په یو په زړه پورې شعر کې لیکلي، چې په لاندې ډول یې بېلګه وړاندې کوم:

که روښانه سبا غواړې علم زده کړه
که راتلونکې رڼا غواړې علم زده کړه
د قلم او د کتاب یاري پرېښږدې
که دا دواړه اشنا غواړې علم زده کړه
په حرامو اخرت خپل خراب نه کړې
که حلاله دنیا غواړې علم زده کړه

په لنډ ډول ویلی شو، چې د بابرزي ټوله شاعري د ولس لپاره ده، ځکه نوموړي د پښتني ولس له کړاونو ښه خبر دی او د درملنې لارې چارې یې هم ورسره شته. نوموړي ته ښه ژوند غواړو او د دې رنځېدلي او کړېدلي ولس د ښه خدمت په برخه کې له الله تعالی څخه اوږد عمر ورته غواړو.

# استاد محمد صدیق پسرلی، په معاصرې پښتو شاعرۍ کې د هندي سبک بشپړ استازی(۲)

نورالحبیب نثار

مسلمانانو ته تلقین کړه بیا هغه خبرې چې د ایمان په نور د لمر غوندې سینا ونیسي استاد سجده دې ته وایي چې زړه ورسره صفا شي. دی په کایناتو کې دسیر و سفر لپاره د رڼا توښه شرط ګڼي. د راهب او ملا خبره ځکه نه مني چې د زړه خبره ورته نه کوي. دی موږ ته توصیه کوي چې د زړه غوږې دې ناسپړلې پرې نه ږدو. د استاد دارایې انداز دلته رندانه دی.

زړه چې دې تش نه کړې نارواوو نه، سجده نه شوه
زه چې منم بس په عابدانو کې مینا منم
لمر بویه چې لوړې او ژورې راته وښیي
ړوند خو نه یم یاره چې رهبره به امسا منم
یوه د زړه خبره نه په دیر، نه په جومات کې وه
څه به پسرلیه د راهب او د ملا منم

په برنې دویم بیت کې "امسا" راته د ملا علامه ښکاري. ملا د ټولنې امام او مقتدا دی. مګر، له بده مرغه چې دا وخت تر هرکله زیات په تیاره کې کېوتی. وایي چې د پاچا له زوره مې وساتې او د ملا له توره! ! له دې کبله چې استاد هغه د رندو پیشوا بللی، نو د تور او تکفیر له وېرې یې امسا ورته د علامې په توګه کارولې ده. دغه راز، د "لمر" کلمه کایناتو کې د سیر و سفر د هادي او لارښود په توګه کارېدلې چې دا هم یوه علامه ده. "لوړې ژورې" دلته د کایناتو لپاره استعاره شوې دي.

د استاد شاعري د یوه ځانګړي سیستم او نظام شاعري ده. د حمزه، غني، مفتون، مجذوب، اجمل، قلندر او لایق غوندې ځانګړی مضمون، طرز، بلکې سبک او آهنګ لري. د حمزه بابا د شاعرۍ روح دا دی چې انسان د الله د نور د سمندر یو څاڅکی دی. دی د نفسي رضایت له لارې روحي سکون لټوي؛ غني د رومانټیک عرفان مبلغ دی. د ده خالق قهر و غضب نه لري. درست سره رحم و کرم دی؛ د مفتون د شاعرۍ مضمون د انسان او د خدای تر منځ رابطه ده. دی له خپل خالق سره شخړه لري او ګیله ګوزاره ځنې کوي؛ مجذوب د رومانټیک تصوف لاروی دی - له عرفانه عملي ګټه اخلی. اجمل، قلندر او لایق د ریالیزم لاروي دي - د محکومې طبقې د حقونو د حصول او دفاع داعیه لري او د پسرلي د شاعرۍ مضمون فقط حسن و عشق دی. د ده باور دی چې د محبت عالم نه زړښت لري او نه مړینه. دی د یوه عاطفي جهان په ودانولو لګیا دی. دی د حسن و عشق په معامله کې هوس ته لاره نه ورکوي. ځکه خو د ده په شاعرۍ کې د رقیب نقش نشته او دا هغه یوه ځانګړتیا ده چې یوازې زموږ سپېڅلې ولسي شاعري یې لري.

د غزل آسماني کول د هغه لاهوتي کول دي. حمزه بابا فرمایي چې کله خپل غزل له چا نه اوري نو وایي چې چا هسې وینا کړې ده ! مګر، استاد پسرلی چې خپله هغه له ښاپېریو او پرښتو اوري، ګومان کوي چې آسماني کړې یې ده. د ده غزلې د ښاپېریو سرودونه دي. دی د عشق او هنر په وسیله دغه خاورینه نړۍ فردوسول غواړي:

پسرلیه ښکاري چې تا، هم آسماني کړه غزل
له ښاپېرو یې اورم، له فرښتو یې اورم
بیا راځه پسرلیه چې د عشق او د هنر په مټ
دې سپېرې نړۍ نه د فردوس سیاله جوړه کړو

د خپل شعر باره کې په خپله د استاد اجمالي نظر دا دی چې د زړه له څړیکو راالتهېدلیو اوښکو څخه یې طبعې مرغلرې جوړې کړې دي. مرغلره د اوښکې لپاره ډېره لرغونې کنایه ده. مګر، دی د خپل مضمون پر نوښت او د خیال پر نزاکت مطمئن دی. د نورو صیقل کړي مواد نه کاروي. د ده شاعري د ده خپله تجربه ده. دی حتی حسن د خپلې طبعې پوروړی ګڼي.

نور به پسرلیه د خپل شعر درته څه وایم
څړیکې وې - اوبه شوې - ښکلې طبعې
مرغلرې کړې

نخښې دې د طبعې پسرلیه وینم حسن کې

نازیې ولجه کړې نازکې د تا له خیاله ده

دیوه شي یا یوې پېښې له لېدا سره بنده ته بل شی یا بله پېښه وریادېږي. علت یې په ذهن کې د هغو شیانو او پېښو تر منځ څه مماثلت، مجاورت، مخالفت یا بل داسې څه حالت او کیفیت وي. استاد پسرلي د تداعي کېدا د صلاحیت په مرسته هم زبردسته شاعري کړې چې حقیقت کې هماغه تمثیلي تشبیه ده.

ما چې وې غلجي د اصفهان په ښار وروختل
څه خیالي بانه وو چې لښکرې مې رایادې شوې

د استاد د شاعرۍ د مضامینو په پنځونه کې د ده تر لوړ تخیل او تفکر ورها خوا، د ده ګومان او یقین هم برابر لاس لرلی. دی د یوه شي یا یوې پېښې له لېدا سره له واره د هغه پر حقیقت باور نه کوي. شک یې باندې راځي چې ممکن هغه څه نه وي چې ده ته ښکاري. ګومان یې ورته یو څه وایي او یقین یې ورته بل څه. داسې وخت کې بیا زموږ رأیه او نظر غواړي او ماجرا راسره د پوښتنې په توګه شریکوي. پوښتنه د زده کړې تر ټولو اهم تکنیک دی. بنده په پوښتنه پوښتنه مکې ته رسېږي.

که غواړو چې د یوه شي تل ته دې کوز شو، په باره کې یې پوښتنه کوو او که غواړو چې چا ته دې د تلاش مخه ورکړو نو د شیانو باره کې د نظر څرګندونې مجال به ورکوو او د ذهن کړکۍ به یې ورته شاوخوا پرانیستې پرېږدو. له داسې کولو سره هغه د رأیې او انتخاب له حقه کار اخلي - یا یې مني - یا یې ردوي او خپله خبره کوي. استاد خپلو غزلو کې له همدې روشه کار اخیستی. د خپل ګومان او یقین دواړو خبرې یې راته کړې دي او موږ ته یې زموږ د عندیې د څرګندولو مخه راکړې ده.

تشبیه، په تشبیه کې بیا مدعا مثل، حسن تعلیل، حس آمېزي، تشخص او پراډاکس هغه تکنیکونه دي چې استاد یې په مرسته شاعري کوي. د ولسي ژوند تجربې او محیطي مثالونه ارایه کول د ده د شاعرۍ لویه ځانګړتیا ده. ده په خپلو غزلو کې په زرونو ډول ډول ترکیبونه او تشبیهات جوړ کړي چې زیاتره نوي دي او که زاړه یې هم کارولي نو وجوهات یې ورته بدل کړي دي. د ده غزل واقعاً د نازکو خیالونو، نویو مضمونونو او ژورو فکرونو هنداره ده.

د ښکلا د ډنډ پري، د نور وزرې، د یادو درشل، د حسن بورجل، د حسن مرز و بوم، د حسن هجوم، د غوښتنو سفر، لاس تر غاړه ناز، ورین تصور، معصومه اندېښه، د شفق ټاپو، مظلومه نوا ، د هنر سا، د حسن شګوفې، د ښه آغاز سریزه، وروستۍ سندره، د مکېز درشل، ړنګ تصویرونه، د هوس شونډې، ستړي قدمونه، سل بهاره حسن، د زړونو روغ کلی، د حسن پل، د اسرارو عمان، د رازونو ګوهر، یو کهکشان نور، د دلبرۍ عالم، پلوغاړې نجلۍ، د حسرت ګرد، د هندارو کر، د ناز فلم، د نازونو کر، د پرهرونو کر، د زړونو کر، د داغونو کر، د آرمانونو کر، حسرت آباد، د هوس چمچه مست، وحشي نظر، وحشي ځنګل، د عشوو پلونه، نغښتي زړونه، هسکې پېنګې، د خیال شوګیر، د خیال چغلبازي، د ناز درشل، د وبال نخښې، د خیال تیږه، د رنګ و بو اوښکې، د ارزو اوښکې، د تنهاکو لېمه، د سفر وهم، د څپو وارخطایي، د حسرت غشی، د حسن تقاضې، د حیا تقاضې، د فوارې پل، کونډه آرزو، د حیرانیو تصویر، د رازونو آبرو، د ګوهر غوټې، سرشاره میکده، د هلال کونجي، کوتاه بین سکندر، د ناز خاپي، د ګرېتانو راج، د زړه تلې، د حسن رڼا، غرقه چوپتیا، د حیا خوله، فریادونه غوټه کېدل، شوخه تمنا او نور ټول هغه ترکیبونه، تشبیه ګانې او استعارې دي چې یو عالم نوې معناګانې یې پنځولې دي.

دغه راز استاد پسرلی خپلو غزلو کې ګڼ موټیفونه لري. حسن، عشق، مینه، ناز، ادا، کرشمه، عشوه، شمه، پتنګ، جنون، سروه، زلما، ګودر، استغنا، ساقي، شراب، سرور، سیورى، تمنا، واهمه، وزر، ترانه، شرر، څلی، هدیره، عالم، هستي، عدم، لوری، منزل، زاهد، ملا، محتسب، لمر، سپوږمۍ، ستورى، هلال، جلوه، رڼا، ایره، ګرداب، اوښکه، اور، نغمه، وطن، آواره، وروځې، لېمه، لمن، آرزو، هنداره، تصویر، انځور، آبشار، شور، سیند، څپه، سیپۍ، صدف، مرغلره، فواره، ورا، ورابانې، درا، شپېلۍ، غنګۍ، پېنګې، اورتون، دریا، جرس، نوا، آهنګ، غبار، سکوت، ګرېوان، شیبه، کلی، ښار، پل، انتظار، لار، ښکالو، مسخولا ، ... او نور ټول هغه مفاهیم دي چې استاد ورته خاصه لېوالتیا لري او بیا بیا یې یادوي.

غزلبڼ له زرونو محاورو، متلونو، لنډیو، انګېرنو، څلیو، کاڼیو، نرخونو، حکیمانه ارشاداتو، کلامي مفاهیمو، منطقي دلایلو او فلسفي مقولو څخه مالامال یوه خزانه ده. د استاد انګېرنې، دلایل او مثالونه زیاتره د ده د ژورې مطالعې او مشاهدې زېږنده دي.

غزلبڼ کې د سوچه سیمه ییزو کلمو هم د چا خبره ورا روانه ده؛ مثلاً: ورا، پنځلسۍ، وره، الیېل، پېنګې، غنګۍ، پېڅول، ټپه، توشپلې، خراشپه، نښتېځلی، بوڅه، سوکه، .... استاد هم د غني او مجذوب غوندې خپلې محلي کلمې زیاتې کاروي مګر له ژبني معیار سره د هغوی غوندې بې احتیاطي نه کوي.

# په لنډیو کې هنري ښایستونه

څېړنپوه علي محمد منګل

**رجوع**:

چې شاعر یا ناثر یو مطلب یو وار ووایي او بیا یې باطل کړي رجوع ورته وایه شي^١.

ځینو پښتو ادب پوهانو پورته مطلب داسې بیان کړی دی:

١ - چې یو مطلب یو واورې وویل شي او بیا په وروستۍ جمله یا نیم بیتي کې بېرته نفي او باطل کړل شي رجوع ورته ویلای شي^١.

٢ - چې یوه خبره بیان شي او بیا د څه خاص غرض لپاره هم د هغې تردید او کړی شي او د هغې په ځای د هغې مقابل بله خبره بیان شي رجوع یې بولي^١.

پښتو سندرو کې یې د نمونې لپاره دا ټپکۍ وګورئ:

یـــو وار دې یــــار کـــړم بیــــا دې پرېښـــوم
اوس مې په خوا کې شوره وې ګیلې راځینه ٬

د لنډۍ دواړه اړخونه په رجوع رنګین شوي او مطلب یې جوت دی ځکه یو وار یاري کول او بیا پرېښودل یې څرګند بیان، خو عاشق بې له ګیلې څه کولای شي.

یـــو وار دې پښـــې راتــــه اوږدې کـــړې
بیـا دې در ټـولې کـړې، چې نـه یـې در کومـه ٬

په دې ټپه کې هم رجوع په څرګنده لیدل کېږي، چې د پښو په اوږدولو او راټولو کې ورته رنګینه اشاره شوې.

ټـــوټې ټـــوټې زړه بــــه راټـــول کـــم
راټـول بـه نـه کـم پـه جانـان پراتـه لاسـونه ٬

که د چا زړه ټوټې ټوټې او ټکرې ټوکړې وي هغه کړای شي راټول یې کړي او دا به یې له لاسه وشي؛ خو په یار او حسین پراته لاسونه راټول د چا دوسه نه کېږي او نه زړه ورته ښه کوي، چې رجوع ورته وکړي.

پــــه ســــیالانو کـــې دې خـــر کـــړم
کـه زه پښـتون یـم سـم بـه لاس در واچومـه ٬

د کــــوټې تېـــر راپانـــدې پـــروت وای
راپانــدې نــه وی د مـــوزي ســـړي لاسـونه ٬

**جمع**:

چې څو شیان تر یو حکم لاندې راغونډ کړای شي جمع یې بولي^١.

ځینې نور پښتو ادب پوهان یې داسې بیانوي:

١ - متعدد څیزونه د یو حکم لاندې راوستل جمع بلل شي^١.

٢ - جمع هغه ادبي صنعت او ښایست ته وایي، چې شاعر او ناثر څو شیان تر یو حکم لاندې راولي^١.

دا لاندې ټیکۍ د دې صنعت لپاره وګورئ:

تــــن مــــې وطـــن مـــخ مــــې غیـــرت دی
ســترګې مــې تــورې د دښــمن سـینه وهینـه ٬

په دغه لنډۍ کې د وطن د ساتنې او دښمن د وهلو لپاره د غیرت او تورې توکې سره راغونډ دي.

تــــن مـــې قجیــــر صــــدر کشـــمیر دی
زړه مــې امیــر دی عاشــقان پانسـي کوینــه

د عاشقانو د پانسي کولو توکي په کې په څرګنده راوړل شوي دي، چې تن صدر، زړه امیر، قجیر او تن دي.

ټیــــک دې بادشـــاه خـــال دې وزیــــر دی
زلفـې مـاران سـینه د ګنج پـه کـې لعلونـه

په دغه لنډۍ کې د تشبیهاتو په رنګینیو کې غوره توکي سره راجمع شوي دي:

ټیــک مــې بادشـــاه خـــال مـــې وزیـــر دی
زلفــان زنځیــر دی فقیــران بــه پــرې ترمــه ٬

دا رنګینه لنډۍ په رنګینیو تشبیهاتو کې راجمع شوې.

زلفــــې ســـــنبل مخـــــې دې ګــــلاب دی
زنــه دې ســیب د ثمــر قنــد در دې غاښــونه

دا ټپه هم د ښکلو تشبیهاتو په لمن کې د رنګینو شیانو په جمع کې جوته جلوه لري.

ګل د ګلاب، بوی د سنځلې
سوری دې ولـې خـوب د پیغلـې پـه ورنونـه

دا لنډۍ د جمع د صنعت ځلاندو ځلاوو کې ادا شوې ده.

مـــخ دې کتـــاب شــــونډې دې پــــاڼې
دا نــرۍ ژبــه دې قلـــم پـــرې ګرزومــــه ٬

د دې لنډۍ تشبیهات د جمع صنعت غوره خزانه ده.

**سیاقت الاعداد**:

چې په نظم کې د اعدادو مرتباً او په ترتیب ذکر د صفاتو یا شیانو سره وشي سیاقت الاعداد ورته وایه شي^١.

په پښتو سندرو کې یې دا څو نمونې وګورئ:

اول ګــــلاب دویــــم رامبېــــل دی
درېـیم چامبېـل دې خپـه زړه خوشـحالوینه

«پښتو لنډۍ ١٦ مخ»

پــــه ســپینه ســینه یــو ســـړی ځـــایېږي
زه لـــــونګین او لالـــــی دواړه ځایومــــه ٬

کتـــه څلـــــور دې بازوګـــــان دي
پــــنځم اشــــنا شـــپږمه زه در وختمــــه ٬

پـــه ســـینه یـــو لالـــی ځـــایېږي
زه لــــونګین او لالـــی دواړه زنګومـــه ٬

قســـم پـــه خــــدای بـــاور پـــه وکـــه
یـویـار مـې تـه یـې دوه مـې نـور نیـولي دینـه

یــــو مــــې ایمــــان دویــــم پښـــتو ده
درېـیم نـاموس څلـورم ننـګ پـه وطـن شـینه

په دغو ټولو لنډیو کې د اعدادو په ترتیب یادونه په ادبي ادا کې ډېره رنګینه راجوته شوې: اول، دویم، درېیم، یو، دوه، څلورم، پنځم، شپږم، یو، دوه، درې، څلور، پنځم، شپږم او په ټولو غوره دردانو کې د دغه رنګین صنعت یاد ډېر خوږ راوړل شوی دی.

# د کنایې اصلي معنا څه ده؟

استاد اسدالله غضنفر

غضنفر: استاد منلی! دا وسني بحث موضوع کنایه ده. کنایه یوه ادبي اصطلاح ده خو یوه داسې ادبي اصطلاح ده چې موږ یې په نور ژوند کې هم ډېره کاروو. که یو څوک په نیمه کې خبره وکړي نو موږ وایو پلاني په کنایه کې پلانکي ته داسې وویل. کله کله خو هغه خبره ممکن یو څه طنز هم ولري. کنایه غیر له ادبیاتو په نورو مواردو کې هم استعمالوو او په دې نورو مواردو کې استعمال، د کنایې تعریف یو څه مبهم کړی دی، حدود یې ډېرو خلکو ته سم نه معلومېږي، هغه څه چې باید په ادبیاتو کې ورته کنایه ووایو، ستاسې په نظر هغه دقیقاً څنګه تعریفېږي؟

منلی: په اصل کې کنایه همدا په عادي ژوند کې، په عادي خبرو کې په تلمیحي ډول یو شي ته اشاره کول دي چې هغه شی بې له دې چې وویل شي، تداعي شي. دغه کار په عادي ژوند کې ډېر کېږي او د خبرو مالګه په همدې کې ده. کنایه بیا وروسته ادبیاتو ته انتقالېږي یعنې کنایه له ادبه ژوند ته نه ده راغلې، له ادبه ټولنې ته نه ده راغلې، بلکې له ټولنې څخه ادب ته تللې ده.

په ټولنه کې دا کار کېږي. موږ هره ورځ په خپل ورځني ژوند کې دا کار کوو. ځینې خبرې که په مستقیم ډول وشي نو شاید د خپګان باعث شي نو هغه په تلمیحي ډول ویل کېږي. کنایه له دغه ځایه شروع شوې او له همدې ځایه ادب ته ورګډه شوې ده او همدغه مفاهیم تداعي کوي. البته په ادب کې کنایه عموماً له طنز سره تړلې ده. لکه په عادي ژوند کې کله چې د کنایې خبره کوو، یو طنزي بار لري. د مثال په توګه که د خوشحال بابا دغه قطعه وګورو:

ښــه عادل پاچا پیدا شو    اورنګ شاه د دین غمخور
دا خپل پلار تړي په عدل  په فتوا وژني خپل ورور

دلته څو خبرو ته اشاره کېږي. له یوې خوا

**پاتې درېیم مخ** ...


# د زېړي پنځلس ورځنۍ

## د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې

**مسوول مدیر: څېړندوی سیدنظیم سیدي**

**مهتمم: څېړندوی زکریا ملاتړ**

**پته: د افغانستان د علومو اکاډمۍ د نشراتو ریاست**

**زنبق څلور لارې، کابل افغانستان**

**چاپ چارې: بهیر مطبعه**

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.